# ژبې او د تکامل قانون

آیا د ژبو سوچه کول ممکن دي؟

د ژبو د مطالعې یو لوی ډول او علمي لار هم داده چې ژبه او د هغې لفظونه او کلمې په داسې نظر مطالعه سي چې دا ژبه هم یوه اجتماعي او طبیعي پدیده ده، او د نورو ژوندیو مخلوقاتو په څېر د ژوندانه مخصوص نوامیس او قواعد لري. او د فطرت احکام هغسې پر جاري کیږي لکه پر نورو پیدا سوو شیانو باندې.

مونږ به یو سړی فرض کو، چې په یوه سړه مځکه کښې اوسي، نو که دی له دغه ځایه تودې سیمې ته ولیږدي، دغه نوی د ژوند محیط او هوا او اقلیم خامخا پر ده اغېزه کوي، دده رنګ او څېره او کالي او د ژوندانه ډول، له نوي چاپېره سره سمیږي که سپین وُ، نو ئې نسل ورو ورو توریږي، او که تور وُ سپینیږي.

لکه دده په مادي او جسم او بنې باندې چې دغه اغېزه کیږي دغسې هم د هغه پر اخلاقو او عاداتو او روحي خصایصو باندې دغسې نوی اثرونه کیږي، او هغو ته تبدیل او تحول ورکوي. ژبې د انسان له ارتقایي سیره سره یو ځای دغسې په دایمي تحول او اوښتنو کښې دي او دا باید ومنو، چې دغه د لوړتیا و خواته یون، طبیعي حرکت دئ، خو د انسان عقل او اراده هم پوره برخه لري چې دغه حرکت او طبیعي جریان پر سمه لاره واچوي، او د ژبې او اجتماع په ګټه فایده ځني واخلي.



لکه نن چې علم او پوهنه د رودو او د غرو او درو د اوبو طبیعي جریانونه پخپل کنټرول کښې راولي، او د بشر د ګټې لپاره ئې استعمالوي دغسې هم د ژبو د طبیعي ارتقایي جریان د کنټرول لپاره لارې او چارې سته، چې د هغو په وسیله ژبې خوندي کیږي او که د تنازع للحیات پر میدان نورې غالبې ژبې وغواړي چې یوه بله ژبه محوه او نابوده کړي، نو انساني سعی او تدبیر کولای سي چې په علمي توګه هغه ژبه له محوه کېدو او زوال څخه وساتي.

د نوي علم دغه تدبیر او چاره سنجي پر دقیق علمي تحلیل بناء ده، او تطبیق ئې هم د ژبنیو پوهنو د متخصصانو کار دئ، هلته چې یو ماهر انجنیر د یوه رود مدهش جریان او سېلاب مهاروي او تر کنټرول لاندې ئې راولي، دلته هم "ژب پوهاند" پر علمي اساسونو برابر د ژبې د چمتو کولو او روزلو لپاره په هغه مهارت او پوهې کار کوي.

ما دمخه وویل : چې ژبې هم لکه نور کائنات ارتقایي یون لري، مګر دغه یون خو یو مجدد ارتقایي سیر نه دئ، بلکې ډېر نور عوامل او مؤثرات سته چې پر دغه سیر باندې هم اثر کوي، او ډېر اثرونه داسې هم دي چې هغه ژبې وژني او پاتې داسې ورستوي چې سبا د نورو مروجو ژبو په مخ کښې نه سي دربدلای او مقابله هم نه سي ورسره کولای.

یوه ژبه که څه هم ډېر قوي بنیا د او وسعت او صلاحیت ولري، مګر که د فرهنګي او کلتوري تعامل وسیله نه وي د یوې بلې فرهنګي ژبې سره مقابله نه سي کولای، او هغه غالبه ژبه د فرهنګ او ثقافت په وسیله دغه خپله مقابله ژبه له منځه باسي.

د پښتو ژبې د تقویت لپاره تر اوسه ډېر څه لیکل سوي، او ډېرې لارې ښوولې سوي دي، خو اساسي خبره داده : څو پښتو د ثقافت او فرهنګ ژبه نه سي او فرهنګي عناصر ئې قوي نه سي او

فکري ذخاير ونه لري او د کلتوري تعامل او فعاليت عراده نه سي او د اجتماع په فرهنګي مرکزونو کښي داخله نه سي، تر هغو دا ژبه، ژبه کېداى نه سي.

نو که موږ وغواړو چي پښتو د ثقافت پر ډګر له نورو ژبو سره ودرووو، بايد په دغه ژبه کښي د فرهنګي تبيين او توضيح قوت پيدا کو، د علم او ثقافت د قبلولو لپاره په دغه ژبه کښي استعداد پيدا کو د انسان د فکر او پوهني ګرانبها ذخاير دې ژبي ته رانقل کو، او هموطنانو ته داسي يوه ژبه وړاندي کو چي هغه د فرهنګ او ثقافت ترجمانه وي، د تهذيب او ښکلا خاونده وي د مترقي او عالي ادب قبلوونکې وي د انسان د اوسنيو اړتياوو او حياتي او اقتصادي احتياجاتو سره سمه وي.

د ژبو لويه ذخيره او اساسي د توضيح او تشريح وسيله هم دغه الفاظ او کلمات دي چي د ژبي خاوندان ئې د خپلو روزمره مقصودونو د ځرګندولو لپاره استعمالوي.

**الفاظ او کلمات هم تر طبيعي قانون لاندي دي :**

ځيني ژبي چي له تاريخي حيثه له يوې کورنۍ ځخه دي دغسي ژبي يعني مشترک کلمات سره لري او کله ځيني تاريخي حوادث ژبو ته نوي مواد او کلمات ننباسي او له يوه محيطه مهاجرت په کوي.

هر ځوني چي د انسانانو اقتصادي روابط سره ډيريږي، يا د سياسي او ثقافتي تسلط دايره پراخيږي، دغسي هم د ملتونو د ژبو سره ګډېدل، او د دوی د ژبو اثر يو پر بل باندي ډيريږي، او هر لغت چي په دغه اقتصادي او فرهنګي جريان کښي خپل نوی محيط ته ځي، د هغه ځای شکل پيدا کوي، او خانته مخصوصه بڼه مومي او زوړ رنګ له لاسه باسي، يا ئې لږ څه بدلوي. د انتقال او اقتباس قانون چي په نورو کايناتو کښي جاري او ساري دئ، په



کلماتو کښي هم کټ مټ ليدل کيږي لوموړی يوه کلمه نوی محيط ته انتقال کوي وروسته نو مطابقت ورسره مومي او دا هغه د "محيط سره د سمبدلو" قانون دئ چي بېله ژبو د انسانانو پر اکثرو حياتي شيانو باندي تطبيق کيږي.

د پښتو او دری او هندي ژبو ډېر لغات سره مشترک يا سره نږدې دي دا ځکه چي يو خو په ريښه کښي سره شريکي دي او بل دا چي ددغو خلکو په منځ کښي تل اقتصادي او تجارتي او فرهنګي روابط او تګ راتګ موجود وُ نو ډېر کلمات له غربه شرق ته نقل سوي، يا له شرقه غربي خواته تللي دي.

د پښتو آس، د دری اسپ، د سنسکريت اشو ځوني سره نږدې دي د پښتو ډېوه، او د سنسکريت ډېوه سره مشترک دي د پښتو لس او د هندي دس او د دری (ده) د تبدل تر خاص قانون لاندي دي (۱) او ځکه چي هيڅ ژبه له مشترکو لغاتو او کلماتو ځخه نه ده خالي، نو آيا د يوې ژبي تخليص د نورو ژبو له اثره ځخه ممکن دئ؟

زما په عقيده، نه !

اما دلته بايد دا خبره هم وکړم چي د ژبي سوچه کول خو بالکل ممکن نه دئ، مګر د ژبي بنياد قوي کول او روزل او پالل ښه کار دئ.

په ژبه کښي چي کوم کلمات اوس مستعمل دي هغه په دې ګناه ايستل چي له بلي ژبي ځخه راغلي دي معقول کار نه ښکاري، مګر دغه کلمات په ثقافي تعامل کښي اچول او له هغو ځخه کار اخيستل ډېر ښه کار دئ.

د دنيا ژبي خو کورنۍ کورنۍ دي، او هر ژبه په يوه کورنۍ پوري اړه لري، د هري کورنۍ ژبي بيا خانته ريښه او بنسټ لري چي هغه بنسټ د يوې کورنۍ ژبو لپاره مشترک وي. او ډيري ژبي

په ځينو خصوصياتو کښي سره نښتي وي، نو که موږ دغه نښتون او اشتراک پر علمي اساس باندي ومنو، نو د ژبي د خالص توب دعوې به پرېږدو.

مثلاً : آريايي ژبي چي په هند، افغانستان، پارس، سند، خراسان کښي ويلي کېدې، ټولي له يوې آريايي ريښې څخه را ټوکېدلي دي نو ځکه اوس ددغو ژبو اکثريت لغات سره مشترک او نژدې دي، په دغو ژبو کښي پښتو له سنسکريت او اوستا او پهلوي او دری سره ډېره خپلوي لري. بلکي ددغو ژبو ډېر زاړه او لرغوني کلمات اوس لا هم پښتو ساتلي دي.

د پښتو اوسنۍ اويجه هغه د پخوانو آريايانو ويجه وه، د پښتو اوسنۍ ورشو د پخوانو تاريخي ژبو ( ورشه) ده. د پخوانۍ دری (اير = هير) د پښتو اور يا اير دي د پښتو هټ او هټۍ له هندي ژبو سره مشترکه کلمه ده ، دغسي هم : رود، دېوال، بنه ، پيغاره او داسي په سوو کلمات ئې له دری سره مشترک دي بلکه، بنه او پېغور اوس دری زبانان نه وايي، مگر پښتانه ئې وايي.

دا مشترک لغات زموږ دي، او کورټ ئې موږ له ژبي څخه نه باسو، دغسي هم له عربي څخه ډېر مغفن کلمات لرو، چي اوس زموږ سوي دي، او خاص پښتو مال دئ، او نه شايي چي پردي وګڼل سي، کميس، پاتا، ميراث، ناره، تيوس، ماشوم له دې ډلي څخه دي چي اوس پوره پښتو بلل کيږي.

د لغاتو د انتقال په دوره کښي له يوې ژبي سره ډېر لېږي کلمات هم ګډېږي، او داسي الفاظ هم ورته را دروميږي، چي اصلاً د هغې ژبي له کورنۍ څخه هم نه وي مثلاً : سنسکريت چي يوه آريايي ژبه ده او عربي چي له سامي کورنۍ څخه ده په پخوانو تجارتي روابطو کښي د لومړۍ ژبي ډېر لغات عربو ته تللي او په عربي ژبه ګډ سوي دي، لکه : اپت، چندن، مشکا، کاپور، تابنول،



چي په عربي کښي آفت، صندل، مسک، کافور، تنبول، ځيني جوړ سوي دي.

اوس چي موږ ګورو دغه لغات په پښتو کښي هم سته، اپت، چندن، مشک، کاپور ټول مستعمل دي. نو دا الفاظ د سامي عربي ژبي او د آريايي ژبو تر منځ مشترک ګڼل کيږي، او په پارسي کښي هم بيرته په عربي شکل مستعمل دي، خو فقط عربي ژبي دوني کار کړئ دئ، چي د خپل احتياجه سره ئې سم شکل او رنګ ور ګرزولئ دئ، معرب کړئ ئې دئ، يعني له نوی محيط سره ئې تطابق ورکړئ. داسي کلمات چي په ژبو کښي يو له بله سره اقتباس سوي دي، خورا ډېر دي او هر ځای ئې پخپل نوي محيط کښي د تابعيت پوره حق هم موندلئ دئ. د مثال په توګه به زه دلته فقط د يوې کلمې (پوز) سرګذشت وليکم :

په هره ژبه کښي اصوات او حروف ځانته يو طبيعت او خاصيت لري، چي زه دغه طبيعت ته د اصواتو لغوي خاصيت وايم، او مقصد مي دادئ : ډېر ځله چي څو توري (اصوات) سره يوځای سي، ددغه يو ځای کېدلو په اثر دوي يو لغوي مفهوم مومي او دغه مفهوم په اکثرو ژبو کښي مطرد وي، نو دغه حروف چي په طبيعت کښي يوه معنا پرته وي، د يوه مفهوم لپاره عنصري توري بللای سوای. مثلاً : د (س ـ ت) په طبيعت کښي د توقف او بودن معاني پراته دي. نو دغه عنصر په اکثرو آريايي ژبو کښي ددغه مفهوم لپاره مشترک دي. د پښتو هستېدل، سته، ـ د پارسي هست، ايستادن ـ د انګليسي Stay او Stand او Stable نور ډېر لغات دغه عنصر لري، نو ګويا (س ـ ت) د توقف او بودن لپاره په آريايي ژبو کښي عنصري توري دي دغسي هم (پ ـ ز) د لوړې او جګې لپاره د عنصر توري ګڼل کيږي په پښتو پوزه ـ پزه ځکه بيني ته وايي، چي په مخ کښي لوړه ده پوزه د (ز) په فتحه لوړې ته وايي، چي غونډۍ

ئي هم بولي. په پارسي هم (پوز) د انسان او حيوان د مخ راوتلي برخې ته وايي، لکه پوزسک، پوزشغال چې ددغو حيواناتو (پوز) راوتلئ دئ، پوزه هم په پارسي دغه معنا لري، او په پهلوي کښي هم (پوزک) په دغه مفهوم مستعمل وُ، په نورو آريايي ژبو کښي هم وُ لکه :

| | | |
|---|---|---|
| کردي | : پوز | Puz |
| سنګلچي | : پوزک | Fuzik |
| منجي | : پوسکه | Foska |
| استي | : فنجه | Finja |
| ارمني | : پنس | Pinc (۲) |
| دري | : پوز ـ پزه | |
| پښتو | : پوز ـ بذه ـ پوزه | |

له دغي مطالعې څخه ښکاري، چې : پوز ـ پوزه ـ پزه او نور له آريايي ريښې څخه دي، او عنصري توري هم (پ ـ ز) دي.

دا آريايي کلمه ډېره پخوا په عربي ژبه ګډه سوې وه، او د انتقال تر قانون لاندې تللې ده، پېړۍ پېړۍ تيرې سوې او تر اوسه هم په عربي کښي سته.

ياقوت حموی په خپل معجم الادباء کښي ليکي : " شبهت مولای الاشيخ و هو يتحدث و يقول ببوزه کذا و بيده کذا بقردرائيے اليوم ..." يعني هغه شيخ چې په پوز ئي يو څه ويل او لاس بل څه، داسي ښکارېدئ لکه بيزو.

نو دا آريايي (پوز) په عربي کښي مستعمل وُ، او عربو لغت ليکونکو هم دا فم الکلب په معنا راوړئ دئ. (۳) او اوس هم په فلسطين کښي دا کلمه رواج ده، مثلاً که وغواړي چې سړی د توهين په ډول له خبرو څخه خاموش کړي او ورته وايي : (سد بوزک) يعني خپله پوزه وتړه.



دا ما يو مثال د عربي او پښتو او پارسي د اشتراک لپاره راوړئ حال دا چې عربي ژبه د سامي کورنۍ څخه ده، او پښتو او پارسي له آريايي کهوله دي، مګر سره له دې ډېر مشترک کلمات سره لري، نو که عرب اوس د پښتو او پارسي پوز ـ بهط تخمين ( له همانا څخه ) تاريخ (له ماه روز څخه) جرم (ګرم) صرد (سرد) او جمع ئي (جروم صرود) له خپلې ژبې څخه نه سي طرد کولای، (۴) موږ هم بايد د دري ـ سنسکريت ـ اوستا ـ عربی ـ ترکي هغه لغات چې زموږ په ژبه کښي اوس ځای نيولئ او د نوې محيط سره ئي تطابق هم کړئ دئ له ژبې څخه ونه باسو، او پخپله ثقافي او فرهنګي اړتياوو کښي استعمال کو، مثلاً د ترکي سره مشترک کلمات لرو لکه : اولس ـ جرګه ـ ترنک ـ خان چې زموږ د ژبې پخواني اجزاء دي. له عربي څخه ډېر کلمات لرو، چې مفغن کړي مو دي، لکه : کميس، سهار، وخت يا هغه لغات چې عيناً را اخيستل سوي دي لکه : قيامت، نسيم، زکات، قبر او په زرو نور کلمات، دغسي هم د دری ژبې سره په زرو مشترک لغات لرو نو که موږ دغسي کلمات اوس له ژبې څخه وباسو يقيناً به ژبه خورا محدوده او تنګه راته پاته سي.

کله چې په ابتدائی ملتو کښي د ژوند حرکت پيدا کيږي، نو په نوو ځوانانو کښي د ژبې د سوچه کولو او تخليص کاذب شوق هم د هوس په توګه پيدا سي، چې کوم پوخ اساس نه لري، مګر کله چې پوهان سترګې ورغړوي او هغه ملت هم د تعقل او تدبر مرحلې ته ورسيږي، بيرته له هغه هوسه اوړي، چنانچه دغه مرحلې ترکيه او ايران دواړو طی کړي دي او اوس معلومه سوه چې هغه فکرونه د فطرت له سيره مخالف تش هوسونه وه. ژبه خو په حقيقت کښي فقط د افهام او تفهيم آله ده، نو چې يوه ډله خلک په ځينو الفاظو ښه سره پوهيږي، او هيڅ مشکلات نه وي ورته، څه ضرور دئ چې دوی به نوي لغات او کلمات له ځان تراشي، او ځيني وحشي

او نامانوس الفاظ به د مدني او منلو الفاظو پر ځای دروي؟ نه بـه دا وي چي ژبه د ثقافت په ذخيرو ډکه کړي، او ټول هغه الفـاظ او کلمات په کار کښي واچوي چي ژبي پخوا له نورو څخـه را جـذب کړي دي.(۵)

## لمن ليکونه

۱. لام پـه دال تبـديليږي. لکـه لاس = دسـت ، لـس = دس، سـين هـم کله په (هـ) تبديل سي لکه سوما = هوما، دس = ده.
۲. . وګورئ : فرهنګ نظام او برهان قاطع ص ۴۲۷
۳. شفاء الغليل د عربی د دخيلو لغتونو قاموس
۴. ددې کلمـاتو لپـاره د خـوارزمي مفـاتيح العلـوم او المعـرب د جواليقي تاليف وګورئ.
۵. ورمه مجله، د ۱۳۴۴ ل کال ۴، ۵ او ۶ مه ګڼه ص ۴۸